د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام

# خبرپاڼه—۱۸مه ګڼه

۲۰۱۹ ډسمبر



د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د برنامو نوي ټاکل شوي معین ښاغلي شهزار ځدران د وزارت د پروګرامونو څخه د لیدنو په لړ کې دا وار، د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له مشرتابه او ټولو مرکزي کارمندانو سره ناسته ترسره کړه او د یاد پروګرام د فعالیتونو په ځرنګوالي یې خبرې اترې وکړې.

## د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام:

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت یو له کلیدي پروګرامونو څخه دی ، چې موخه یې د هېواد د 34 ولایتونو په 76ولسوالیو کې د بې‌وزله کلیوالي مېرمنو د اقتصادي او ټولنیز ژوند کچه لوړول دي. یاد پروګرام کابو د هېواد په هر ولایت کې دوه ولسوالۍ تر پوښښ لاندې راوستي دي. د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام په پنځه کلنه موده کې 40000 د سپما ګروپونه، د پور او سپما 5000 کلیوالي اتحادیې، 5000 تولیدي ګروپونه او 500 تولیدي اتحادیې جوړوي، چې شاوخوا 6250 کلیوالي پرمختیایي شوراګانو یا CDCs په مرسته به دا هدف ترلاسه کړي.

## د میاشتې غوره کارمند



ښاغلی سید اکبر خپلواک د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام WEERDP د د اداري برخې کارمند دی.

ښاغلي خپلواک د اداري او سوداګرۍ په برخه کې له دنیا پوهنتون څخه ماستري لري. نوموړي له بېلابېلو ادارو سره د کار کابو نهه کالنه تجربه لري. چې له تېرو اته کالونو راهیسې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام سره په اداري برخه کې دنده ترسره کوي.

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام سره د کار له پیل راهیسې یې تر اوسه خپله دنده په احسن ډول ترسره کړې‌ده او په دې اداره کې د یو غوره کارمند په توګه پېژندل شوی دی.

د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د رهبرۍ هییت ورته له ښتن تعالی څخه روښانه راتلونکې او بریاوې غواړي.

### په‌دې ګڼه کې:

- د مرکزي دفتر د کارکوونکو په ګډون له ټولو زونونو څخه د پروګرام د مالي څانګو کارکوونکو ته د افغانستان بانک له‌خوا په مالي چارو کې روزنیز ورکشاپ ورکړل شو
- په هرات ولایت کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له تطبیق څخه د دې پروګرام د اجرایوي رییس لیدنه
- هغه هیلې چې د غوړېدو په حال کې دي...
- د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د برنامو نوي ټاکل شوي معین د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام څخه لیدنه وکړه
- د مالیې او کلیو بیارغونې او پراختیا وزارتونو ګډ نندارتون
- د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د ۲۰۱۹ کال د پای ارزونه

## د مرکزي دفتر د کارکوونکو په ګډون له ټولو زونونو څخه د پروګرام د مالي څانګو کارکوونکو ته د افغانستان بانک لهخوا په مالي چارو کې روزنیز ورکشاپ ورکړل شو



د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له مرکزي دفتر څخه د یو شمېر کارکوونکو په ګډون د ټولو (۷) زونونو څخه د پروګرام د مالي څانګو کارکوونکو ته د افغانستان بانک لهخوا د یو لړ مالي موضوعاتو په اړه درې ورځنی روزنیز ورکشاپ وړاندې شو.

دا روزنیز ورکشاپ چې د افغانستان بانک لهخوا د مالیاتو، بانکي او له مالي سبواد سره د اشنایې په موخه د لېندی له ۱۷مې نېټې پیل او په ۲۰ مه نېټه پای ته ورسید، په روزنیز ورکشاپ کې برخوالو ته په دغه موضوعاتو کې چې (پیسې څه شی دي؟، مالي موسسه څه ته وايي؟، بانک څه ته وايي؟، بانک څه کردار ترسره کوي؟، او له بانکي حسابونو څخه موخه څه ده؟) بشپړ معلومات وړاندې شول.

سربېره پر دې (په افغانستان کې د مالي خدمتونو او محصولاتو، د بانکې حسابونو د ډولونو، په مالي موسساتو کې د حسابونو د پرانیستې لپاره د شرایطو، د کورني اقتصاد په پیاوړتیا کې د پورونو د رول، د پورونو د ډولونو، د اسلامي بانکدارۍ، د موبایل له لارې بانکولي، د انټرنېټ یا آنلاین بانکدارۍ، دبېت کارت، د بیمې د ډولونو او د پېسو د پړسوب یا تورم په موضوعاتو کې د افغانستان بانک د کار پوهانو لهخوا ګډونوالو ته معلومات وړاندې شول. د یادونې وړ ده، چې د یاد روزنیز ورکشاپ په پای کې راغلیو ګډونوالو ته په روزنه کې د ګډون سندونه د افغانستان بانک د چارواکو په لاس وویشل شول.

## په هرات ولایت کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له تطبیق څخه د دې پروګرام د اجرایوي رییس لیدنه



د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام یو لوړ پوړي پلاوي د دې پروګرام د اجرایوي رییس ښاغلي رحمت الله قریشي په رهبرۍ هرات ولایت ته سفر وکړ، په دې سفر کې له اجرایوي رییس سره د پروګرام د مختلفو څانګو مدیران هم مل وو، محترم رحمت الله قریشي له خپل مل پلاوي سره په دې سفر کې له نویو جوړ شویو ګروپونو څخه د هرات ولایت په ګذره ولسوالۍ کې لیدنه وکړه او د ګروپونو له غړو سره یې د پروګرام د موخو او په سپما ګروپونو کې د خلکو د راټولولو په اړه خبرې وکړې.

د لیدنو په دوام یې د یوې ځانګړې غونډې په ترڅ کې د پروګرام له کارکوونکو سره په هرات ولایت کې ولیدل او د پروګرام د تطبیق پر وړاندې ستونزې، ننګونې او نور موضوعات تر بحث لاندې ونیول.

چې په پایله کې یې د پروګرام د کارکوونکو نظریات او وړاندیزونه له ځان سره واخیستل او د ځینو په اړه یې عملي اقدام ترسره شو. د یادونې وړ ده چې دې پروګرام په هرات ولایت کې څلور ولسوالۍ تر پوښښ لاندې راوستي چې په دې ولسوالیو کې به ۳۶۰ کلي له دې پروګرام څخه ګټه پورته کړي. همدا راز پروګرام به په دې کلیو کې ۲۸۷۶سپما ګروپونه، ۳۶۰ د پور او سپما اتحادیې او همدا راز تولیدي ګروپونه جوړ کړي. د اقتصادي بنسټونو له جوړولو څخه د پروګرام موخه په کلیوالي کچه د پیسو د سپمولو دود ته پیاوړتیا ورکول، مالي سرچینو ته د کلیوالو لاس رسی برابرول، د اقتصادي او تولیدي فعالیتونو د پیاوړتیا په موخه د کلیوالي متشبثینو هڅول دي، چې په دې کار سره به ډېرو کلیوالو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول په مختلفو برخو کې مشغولتیاوې پیدا شي.

# هغه هیلې چې د غوړېدو په حال کې دي...



د همدې کال د غبرګولي لومړۍ ورځې وې، چې د کليوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام په بامیان ولایت کې خپل فعالیتونه پیل کړل. د اژدر کلی په دې ولایت کې هغه سیمه وه، چې پرمختیایې شورا یې پروګرام ته پخپل کلي کې ښه راغلاست وویل او د پروګرام فعالیتونه په دې کلي کې پیل شول. د دې کلي ۱۵مېرمنو د سپما ګروپونو غړیتوب ترلاسه کړ، چې ۳۲ کلنه حسنیه د امېد له سپما ګروپ څخه ده؛ نوموړې څه موده وروسته له خپل ګروپ څخه ۲۰۰۰ افغانۍ پور ترلاسه او په دې پیسو یې د ۲۰ بوتلو لپاره د مربا او اچارو اومه مواد له بازار څخه رانیول او پخپلو لومړنیو زده کړو یې دا خوارکي مواد جوړ کړل.

د کليوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له پیل څخه دمخه په دې کلي کې ټولې مېرمنې د حسنیې په ګډون نه پوهېدل، چې یو کوچنی تشبث څنګه جوړ او چارې پر مخ وړل کیږي؛ چې له هغه طریقه یوه اندازه ګټه ترلاسه کړي. سربېره پر دې هغوی ته هېڅ ډول کاري فرصت د د وی په کلي اژدر کې نه وو، د دوی په وینا په دې کلي کې ټولې مېرمنې د کور په سمبالښت او د کوچنیانو په روزنې بوختې وې او د یو کوچني یا منځني کاروبار تصور یې په خوب کې هم نه درلود.



مېرمن حسنیه په دې اړه داسې وایي: وروسته له هغه چې زموږ په کلي کې د پروګرام په اړه خلکو ته معلومات ورکړل شو او سپما ګروپونه جوړ شول، ما او د ګروپ مېرمنو هره اونۍ ۲۰ افغانۍ سپمولې، چې له شپږو میاشتو پرله پسې سپماو وروسته د کليوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام کارکوونکي د روزنو وړاندې کولو په موخه څو ځله زموږ کلي ته راغلل. په دې روزنو کې موږ د یو کوچني کاروبار د پرمخوړلو او مالي سرچینو ته د لاس رسیو لارې چارې زده کړلې، د دې ټولو کارونو ترڅنګ د پروګرام کارکوونکو موږ ته په ذهن کې د یو کوچني کاروبار د پیل انګیزه راکړه او ټینګار یې درلود چې د کلي هره مېرمن باید یو کوچنی کاروبار ولري.

ما چې له پخوا راهیسې د یو کوچني کاروبار له پیل سره لیوالتیا لرله، پریکړه مې وکړه چې ۲۰۰۰ افغانۍ د دریو میاشتو لپاره له خپل سپماګروپ څخه پور ترلاسه او خپل یو کوچنی کاروبار پیل کړم. په همدې هوډ مې د خپلو لومړنیو زده کړو او تجربو له‌مخې چې



د مرباو او اچارو په برخه کې مې درلودل، ۲۰ بولته خوراکي مواد جوړ کړل، چې لس یې د اچارو او لس یې د مرباو وو. دا خوراکي مواد مې د خپلې سیمې یو هټیوال ته د خرڅلاو لپاره ور وړل او ۵۰۰ افغانۍ مې وګټلې. اوس زه دا احساس کوم چې آن بې سواده او نالوستې مېرمنې هم کولای شي یو کوچنی کاروبار پیل او په نتیجه کې یې خپلې لومړنۍ اړتیاوې پوره کړي، چې په دې توګه به یې د کورنۍ اقتصاد هم پیاوړی شي.

زه د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کليوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له کارکوونکو څخه منندویه یم، چې د هېواد په کچه یې کليوالي مېرمنو ته داسې کاري فرصتونه چمتو کړي. همدا راز له دوی څخه هیله لرم، چې پخپلو مالي مرستو کې له هغو مېرمنو سره چې په تازه ګۍ له پروګرام سره یوځای شوي؛ زیاتوالی راولي.

## د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د برنامو نوي ټاکل شوي معین د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام څخه لیدنه وکړه



د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د برنامو نـــــوي ټاکل شوي معین ښاغلي

شهزار ځدران د وزارت د پروګرامونو څخه د لیدنو په لړ کې دا وار، د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له مشرتابه او ټولو مرکزي کارمندانو سره ناسته ترسره کړه او د یاد پروګرام د فعالیتونو په څرنګوالي یې خبرې اترې وکړې.د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام اجرایوي رییس رحمت‌الله قریشي په دې ناسته کې ښاغلي ځدران ته د برنامو د معین په توګه د مبارکۍ تر څنګ د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د پروګرام په عمومي موخو، لاسته‌راوړنو او ننګونو خبرې وکړې. د ناستې په پای کې، د برنامو معین ښاغلي ځدران د یاد پروګرام د لا ښه پلي‌کېدا په موخه یو لړ لازمې سپارښتنې او سلامشورې د پروګرام له مشرتابه سره شریکې کړې، چې د پروګرام د مشرتابه او کارمندانو له لوري ورته ښه راغلاست وویل شو.

## د مالیې او کلیو بیارغونې او پراختیا وزارتونو ګډ نندارتون



د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام له‌خوا د مالیې وزارت په غوښتنه د یاد وزارت په حوبلۍ کې د یوې ورځې نندارتون په لار واچول شو.

د نندارتون د پرانستغونډې په مراسمو کې د مالیې وزارت سرپرست وزیر ښاغلي محمد همایون قیومي، پخپلو خبرو کې د ښځو مقام او کردار ته په ټولنه کې اشاره وکړه او زیاته یې کړه، چې د داسې نندارتونونو جوړول د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا لپاره ګټور تمامیږي، سرپرست وزیر ټینګار وکړ، چې د مالي وزارت د ښځینه متشبثینو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره ژمن دی.

په دې نندارتون کې چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام ۳۰ تنه ښځینه متشبثینو ګډون کړی وو، د هېواد له ۸ ولایتونو (هرات، بلخ، بامیان، ننګرهار، خوست، پکتیا، پروان او کندهار) څخه راغلي وو.

لاسي صنایع لکه: ټغرونه، قیمتي کاڼي، زیوارت، د لبنیاتو خوراکي توکي، ترشي، البسه هغه تولیدات وو، چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام د ښځینه متشبثینو له‌خوا په یاد نندارتون کې نندارې او پلورنې ته وړاندې شوي وو.

یو شمېر ښځینه متشبثینو چې په دې نندارتون کې ګډون کړې وو، د وزارتونو ترمنځه یې د داسې نندارتونو په جوړولو خوښي څرګنده کړه او زیاته یې کړه، چې د وزارتونو ترمنځه مرستې او له ښځینه متشبثینو څخه ملاتړ کولای شي په اقتصادي خپلواکۍ کې له کلیوالي مېرمنو سره مرسته وکړي.

د یادونې وړ ده، چې یاد نندارتون د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په موخه د شپاړلس ورځني کمپاین په لړ کې د مالیې وزارت په غوښتنه د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام له‌خوا په لار اچول شوې وو.



# د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د ۲۰۱۹ کال د پای ارزونه



د یوې ناستې په ترځ کې چې د هرات ولایت د فرهنګي او ټولنیزو چارو مرستیالې آغلې مونسه حسن زاده، د کلیو بیا رغونې او پراختیا رییس الحاج آقا محمد صدیقي، دکلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام اجرایوي مرستیال محمد وحید ابراهیمزاده، د پروګرام حمایوي مرستیال وحیدالله روفي په حضور کې پرانستل شوه. په دې ارزونه کې چې د دریو ورځو لپاره د پروګرام په لویدیز زون هرات ولایت کې ترتیب شوې، د پروګرام له مرکزي دفتر څخه د کارکوونکو په ګډون د لوېدیز، ختیځ، سویل او شمال زونونو څخه د پروګرام یو شمېر کارکوونکو هم ګډون کړی. په دې ارزونه کې به د پروګرام کړنې، د فعالیتونو پر وړاندې ننګونې او ستونزې د پروګرام د راتلونکې پړاو په موخه تر بحث لاندې ونیول شي او په اړه به یې د نظرونو تبادله ترسره شي.

په دې ناسته کې د ولایت مقام مرستیال د پروګرام د ارزښت په اړه په ځانګړې توګه د کلیوالو مېرمنو د اقتصادي ځواکمنتیا په اړه خبرې وکړې او ټینګار یې درلود چې د کلیوالي مېرمنو د اقتصادي ملاتړ او کاروباري فرصتونو د پیدا کولو لپاره باید ډېر پام وشي. هغه یادونه وکړه چې کلیوالي مېرمنې کولای شي د کورني اقتصاد پیاوړتیا په برخه کې له نارینه و سره اوږه ورکړي او په دې برخه کې یې د پروګرام له ټولو کارکوونکو څخه هیله وکړه چې تر وروستي بریده د کلیوالي مېرمنو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره کار وکړي.

په غونډه کې الحاج آقا محمد صدیقي د کلیو بیا رغونې او پراختیا رییس د پروګرام د کارونو په اړه خبرې وکړې او له دې پروګرام څخه یې د خپل ریاست بشپړ ملاتړ څرګند کړ، دوی په هرات ولایت کې د پروګرام فعالیتونه مثبت وارزول او غوښتنه یې وکړه، چې د بې وزلۍ د کمښت په موخه دې یاد پروګرام خپل اقتصادي فعالیتونه د دې ولایت ټولو ولسوالیو ته وغزوي؛ ترڅو د ښار او کلیوالو ترمنځه واټن لنډ او په دې توګه دا پروګرام د کلیوالو اقتصادي وړتیاوې پیاوړې کړي.

محمد وحید ابراهیمزاده د پروګرام مرستیال د هېواد په کچه د پروګرام له ټولو کارکوونکو څخه د دوی له دوامداره او نه ستړې کېدونکو کوښښونو څخه یادونه وکړه او د هرات ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست څخه یې د دې پروګرام د پلي کولو په اړه مننه وکړه. نوموړي د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام یو له ګټورو او مثالي پروګرمونو څخه یاد کړ او زیاته یې کړه چې دا پروګرام د سیمه ییزو متشبثینو په ځانګړې توګه د کلیوالي مېرمنو د اقتصادي ځواکمنتیا لپاره د دولت له مهمو پروګرامونو څخه یاد کړ.

همدا راز د پروګرام حمایوي مرستیال وحیدالله رووفي د پروګرام د ارزښت په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې له سیمې څخه لېدنه د پروګرام د ارزونې په اجندا کې ځای پر ځای شوې، چې وکولای شو ډېر موضوعات او ننګونې له سیمې څخه د لیدو په ترځ کې له نږدې څخه په غوره توګه وارزو.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د کلیوالو ټولنیز، اقتصادي، دوامداره او باثباته عایداتي سرچېنو او کلیوالو په ځانګړې توګه مېرمنو ته د کاري فرصتونو د پیدا کولو په موخه د هېواد په کلیوالي سیمو کې فعالیت لري. د افغانستان په ۷ زونونو کې د پروګرام دفترونه پرانستل شوي، چې له دې لارې به ۷۶ ولسوالۍ د پروګرام تر پوښښ لاندې راشي. همدا راز په پام کې ده چې په یاد شمېر ولسوالیو کې ۵۰۰۰ د پور او سپما کلیوالي اتحادیې، ۵۰۰۰ تولیدي ګروپونه، د پور او سپما۴۰،۰۰۰ ګروپونه د پروګرام لەخواجوړ شي، چې له ۵۰۰،۰۰۰ څخه زیات ګټه اخیستونکي به لري او ۸۰ فیصده به یې کلیوالي مېرمنې تشکیلوي.



## له موږ سره اړیکې:


نیله باغ سړک، دارالامان واټ، کابل--افغانستان

www.weerdp-mrrd.gov.af

www.facebook.com/weerdpofficial

@weerdpofficial

Abdulwafi.nayebzai@mrrd.gov.af

+93 (0) 788 911 211


